Landratsamt Ortenaukreis
**Abfallwirtschaft**
Eigenbetrieb

# په اورتیناوکرایس کښې پاتیشونې او چټل شیان داسې بیلول کیږی!




## د زړو شیشو کانټینر
## خالی شیشی

ټول یو ځل مصرف او پکار وړونکی او بی فنډه بوتلونه او شیشی. ټول باید خالی
او بی سرپوښه وی. هغه باید د سپین، شین او نصوراری رنګ په اساس
باید په جدا توګه د شیشو په کانټینرونو کښې وغورزول شی.
آبی رنګه او همدارنګه د نورو رنګونو بوتلونه باید د شنی شیشی په کانټینر کښې وغورزول شی.
په هیڅ صورت اجازه نشته چه کیرامیک او چینی باب او نور پدی کانټینرونو کښې ور واچول شی
او یا د زړو شیشو کانټینرونو په څنګ کښې کیښودل شی.




## زیړه کڅوړه (بوجی)
## سپک پوښونه

پوښونه لکه د مثال په توګه د راپیچلو نری پلاستیکونه (فول یی)،
پلاستیکی کڅوړی، بلیستر پوشونه (شفاف پوشونه)، د کنسرو او چښلو
شیانو قوطی، د شیری خالی قوطی، تاویدونکی او پیچیدونکی سرپوشونه،
د المونیم سرپوښ او برغولی، المونیمی قابونه او فول یی، د مصنوعی یا
پلاسیکی موادو بوتلونه او لوښی، د شیدو محصولاتو ګیلاسونه،
د سټیروپور (پولی استرین) پوشونه، د شیدو او څښلو شیانو کارټنونه او نور.
ټول شیان باید پاک او خالی وی.



## شین لوښی یا بیرل
## کاغذ

د کاغذ او پپه (ډبل کاغذ) ټول پاتیشونی (همدارنګه که شنه
نقطه پری هم چاپ وی) د مثال په توګه کارټن، کاغذی کڅوړی،
د بسته بندی او راپیچولو کاغذونه، د لیکنی کاغذونه، ورځپاڼی، مجلی،
پروسپیکټ او تبلیغاتی پاڼی، کتابونه او د مکتب کتابچی او نور.



## خړ لوښی یا بیرل
## د کور ناپاکی

د پخلنځی (آشپزخانی) او خوراکی مواود پاتیشونی چه تاسو ئی پخپله په
طبیعی ډول په کود نشی بدلولی، د حفظ الصحی او نظافت ساحی پاتیشونی،
خس او خاشاک، د شیشی، چینی باب او کیرامیک پترکی او ټوټنکی،
چټل او ناولی کاغذونه، ټاپیټ، ایره، د رڼا ګروپونه،
(پرته له ایل ای دی LED، هلوګین او د انرژی سپما رڼا ګروپونه) او نور شیان.

شنه (ګیاه) پاتیشونی، غټ او ستونزمن پاتیشونی او ناپاکه شیان په جدا ډول جمع کیږی. په مختلفو ښارونو او ناحیو
کښې د منسوجاتو او پنبه ای لرګو لپاره د جمع کولو کانټینرونه وجود لری. پر دی برسیره په هره منطقه کښې د
پاتیشونو او چټلیو د زیاتو ډولونو د ورکولو او ګوزارولو لپاره امکانات وجود لری.

د اورتیناوکرایس آیالتی شورا اداره
د پاتیشونو اقتصاد
دولتی شرکت

باد شتراسه ۲۰، ۷۷۶۵۲ اوفین بیرګ، د پاتیشونو مشوره، تیلفون: ۰۷۸۱۸۰۵۹۶۰۰
ویبپاڼه: www.abfallwirtschaft-ortenaukreis.de ، برښنالیک (ایمیل): abfallwirtschaft@ortenaukreis.de